اونیزه مجله 349
WEEKLY BOOKLET:349

د امیرِ اهلِ سُنّت د کتاب "550 سُنّتیں اور آداب" یو قسط

# 107
# سُنّتونه او آداب

PASHTO





د مریض د تپوس 33 سنتونه او آداب 01
د جنازې په باره کښې 15 سنتونه او آداب 08
د قبر او ښخولو 22 سنتونه او آداب 11
د هدیرې د حاضرۍ 21 سنتونه او آداب 14

شیخ طریقت امیر اهل سنت د دعوت اسلامی بنسټگر حضرت علامه مولانا ابو بلال
محمد الیاس
عطار قادری رضوی
دامت برکاتہم العالیہ

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى خَاتَمِ النَّبِيّٖنَ ط
اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ ط بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ ط

دا مضمون د کتاب "550 سنتیں اور آداب" صفحه 72 نه تر 90 نه اخستے شوے دے.

# 107 سُنَّت او آداب

دُعائے عطّار: يا رَبَّ الـمصطفٰے! څوک چې دا رساله "107 سُنَّت او آداب" ولولي يا واوري، هغه ته د سُنَّت مطابق د اِعتکاف کولو توفيق عطا کړې او بے حِسابه يې اوبخښې.
اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

## د دُرُود شريف فضيلت

د خوږ آخري نبي صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم فرمان مبارک دے: چا چې پۀ ما يو ځل دُرُودِ پاک ولوستو **الله** پاک پۀ هغۀ باندې لس رحمتونه رالیږي او د هغۀ پۀ نامۀ اعمال کښې لس نيکۍ ليکي. (ترمذي، 28/2، حديث: 484)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "د بيمار تپوس د نبي کريم خوږه خوږه سُنَّت دي" د درې ديرش حُروفو پۀ نسبت د تپوس کولو 33 سُنَّت او آداب

د خوږ مصطفٰے صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم 8 فرامين: ﴿1﴾ عُوْدُوا الْمَرِيْضَ. يعنې، د مريض تپوس کوئ. (الادب المفرد، ص137، حديث: 518) ﴿2﴾ څوک چې د مريض د تپوس د پاره ځي نو **الله** پاک پۀ هغۀ باندې د پينځۀ اويا زرو (75,000) فرښتو سورے کوي، د هغۀ پۀ هر قدم پورته کولو باندې د هغۀ د پاره يوه نيکي ليکي، د هر قدم پۀ کيښودو باندې يې يوه ګناه ورانوي او يوه درجه يې اوچتوي تر دې چې هغه پۀ خپل ځائے باندې کښيني، کله چې هغه کښيني نو رحمت يې پټ کړي او خپل کور ته د واپس راتلو پورې به [مسلسل] رحمت پټ کړے وي. (معجم اوسط، 222/3، حديث: 4396) ﴿3﴾ څوک چې د مريض د تپوس د پاره ځي نو د اسمان نه يو غږ کوونکے غږ کوي چې ستا د پاره زيرے دے ستا تلل

ښهٔ دي او تا د جنّت يو منزل خپل ځائے جوړ کړو. (ابن‌ماجه،192/2،حديث:1443) ﴿4﴾ کوم مسلمان چې د چا مسلمان د تپوس د پاره سحر لاړ شي نو تر ماښامه پورې د هغه د پاره اويا زره (70000) فرښتې اِستِغفار (يعني د بخښنې دُعا) کوي او که ماښام لاړ شي نو تر سحره پورې اويا زره (70000) فرښتې [د هغهٔ د پاره] اِستِغفار کوي او د هغه د پاره به پهٔ جنّت کښې يو باغ وي. (ترمذی،290/2،حديث:971) ﴿5﴾ چا چې پهٔ ښه طريقه اودس وکړو بيا يــې د ثواب پهٔ نيت د خپل مسلمان ورور تپوس وکړو نو هغه به د دوزخ نه د اوياؤ [70] کالو پهٔ فاصله لرې کړے شي. (ابوداؤد،248/3،حديث:3097) ﴿6﴾ چې تهٔ کله د مريض خوا له لاړ شې نو هغهٔ ته ووايه چې ستا د پاره دُعا وکړي ځکه چې د هغه دُعا د فرښتو د دُعا پهٔ شان ده. (ابن‌ماجه،191/2،حديث:1441) ﴿7﴾ مريض چې تر څو پورې روغ شوے نه وي د هغه يوه دُعا هُم نه رَد کيږي. (الترغيب‌والترهيب،166/4،حديث:19) ﴿8﴾ چې کله يو مسلمان د چا مسلمان د تپوس د پاره لاړ شي نو 7 کَرَته دې دا دُعا لولي: اَسْاَلُ اللّٰهَ الْعَظِيْمَ، رَبَّ الْعَرْشِ الْعَظِيْمِ اَنْ يَّشْفِيَكَ.[1] کهٔ چرې مرګ يــې نه وي راغلے نو هغه به شِفا بياموي. (ابو داؤد،251/3،حديث:3106) ﴿9﴾ د عِيادت تعريف: لُغوي معنیٰ: د بيمار د طبيعت د پوښتنې د پاره ورتلل (اردولغت،604/13) ﴿10﴾ د مريض تپوس کول سُنَّت دي. که معلومه وي چې د تپوس کولو د پاره ورتلل به هغه بيمار بد وګڼي نو پهٔ داسې حالت کښې د تپوس د پاره مهٔ ورځئ. (بهارشريعت،505/3) ﴿11﴾ که د مريض نه تاسو پهٔ زړهٔ کښې خفه يئ يا د هغه سره مو طبيعت نه لګي نو بيا هم تپوس له ورځئ. ﴿12﴾ د اِتّباعِ سُنّت پهٔ نيت د مريض تپوس کوئ، که چا صرف د دې د پاره د مريض تپوس وکړو چې کله زهٔ بيمار شم نو هغه هم زما د تپوس د پاره راشي نو ثواب به نه ميلاويږي ﴿13﴾ چې د چا د تپوس د پاره لاړ شئ او د مرض سخت والے ووينئ نو د هغه د ويرولو والا خبرې مهٔ کوئ مثلاً ستا حالت خراب دے او مهٔ پهٔ داسې انداز سره سر خوزوئ چې د هغې نه د خراب حالت مطلب واخستے شي. ﴿14﴾ د تپوس پهٔ موقع باندې د مريض يا د غم

[1] ... ترجمه: زهٔ د عَظَمَت والا، د عرشِ عظيم د مالِک اللّٰه پاک نه ستا د پاره د شِفا سُوال کووم.

زيلي ګس پۀ وړاندې د موقعې د مناسبت سره پۀ خپل مخ باندې د غم او د خفګان کيفيت ظاهر کړئ ﴿15﴾ چې د خبرو اترو انداز مو هيڅکله داسې نه وي چې د مريض يا د هغۀ د خپلو پۀ زړۀ کښې وسوسه راشي چې دے زمونږ پۀ پريشانۍ باندې خوشحاله دے ﴿16﴾ د مريض د کور والؤ سره هم د خوا خوږۍ اظهار وکړئ او چې څۀ خدمت يا مرسته يې کولے شئ نو اوئې کړئ ﴿17﴾ د مريض خوا له چې لاړ شئ نو د هغۀ د طبيعت پوښتنه وکړئ او د هغۀ د پاره د صحت او عافيت دُعا وکړئ ﴿18﴾ د خوږ مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عادت مبارک دا وو چې کله به يې د يو مريض د تپوس د پاره تشريف يوړلو نو دا به يې فرمائيل: لَابَأْسَ طَهُوْرٌ اِنْ شَاءَ اللهُ[1] (بخاری، 505/2، حديث:3616) ﴿19﴾ پۀ مريض باندې د ځان د پاره دُعا وکړئ چې د مريض دُعا نه رد کيږي ﴿20﴾ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: د مريض پوره تپوس دا دے چې د هغه پۀ تندي لاس کيږدې او پوښتنه ترينه وکړې چې طبيعت دې څنګه دے. (ترمذی، 334/4، حديث:2740) ﴿21﴾ حضرت مفتي احمد يار خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د دې حديثِ پاک لاندې فرمائي: يعنې چې کله څوک د يو بيمار د تپوس د پاره لاړ شي نو خپل لاس دې د هغۀ پۀ تندي باندې کيږدي بيا دې پۀ ژبۀ باندې دا (يعنې ستاسو طبيعت څنګه دے؟) ووائي، د دې سره د بيمار تسلي کيږي، خو ډير وخت پرې لاس مۀ ږدئ، دا لاس کيښودل د محبت د اظهار د پاره دي. (مراٰة المناجيح،358/6 ملخصاً) ﴿22﴾ که پۀ تندي باندې د لاس کيښودو سره مريض ته تکليف رسي نو لاس پرې مۀ ږدئ او که مريض اَمرد (بلکې غيرِ اَمرد هم) وي او د لاس کيښودو سره مَعَاذَ الله! ''ګنده خوند'' محسوسيږي نو لاس کيښودل پرې ګناه ده او که هغۀ ته پۀ کتلو داسې کيږي نو کتل هم ورته حرام دي. ﴿23﴾ د مريض پۀ مخکښې داسې خبرې کول پکار دي چې پۀ مريض باندې ښې لګي، د بيمارۍ د فضائلو او د الله پاک د رحمت ذِکر کوئ د پاره د دې چې د هغه ذهن د آخرت د ثواب پۀ لور مائل شي او د هغۀ د خُلې نه د ګيلو او

[1] . . . ترجمه: هيڅ د حرج خبره نه ده که الله پاک وغوښتل نو دا مرض (د ګناهونو نه) پاکوونکے دے.

شکايتونو الفاظ ونوځي ﴿24﴾ د تپوس کولو په وخت د موقعې په مناسبت سره مريض له د نيکۍ دعوت هم ورکوئ، خاص طور د نمونځ د پابندۍ ذهن يې جوړوئ ځکه چې په بيمارۍ کښې ډېر نمونځ ګُزاره هم د نمونځونو نه غافله کيږي ﴿25﴾مريض ته د مَدَني چينل کتلو رغبت ورکوئ او د هغې د برکتونو نه يې خبروئ ﴿26﴾ مريض له په مَدَني قافلو کښې د سفر کولو او که پخپله د سفر کولو قابل نه وي نو د خپل اړخ نه د کور په يو ګس د سفر کولو ترغيب ورکوئ او د مَدَني قافلو هغه مَدَني سپرلي ورته بيانوئ په کومو کښې چې د دعاګانو په برکتونو مريضانو ته شفا ميلاؤ شوې ده ﴿27﴾د مريض سره ډېر وخت مه کښينئ او مه شور کوئ خو که بيمار پخپله تر ډير وخت پورې د کښيناستو خواهش لري نو په ممکن حالت کښې تاسو د هغوئي د جذبو احترام وکړئ ﴿28﴾ د بعضې خلقو عادت وي چې د مريض يا د هغه د نمائنده سره ميلاويږي نو څۀ نا څۀ علاج ورښائي او بعضې خو مريض ته بيا بيا وائي چې کوم علاج زۀ درښايم دا وکړه، فلانکې دوائي وخوره، ټيک به شې! مريض له پکار دي چې د هر چا ښودلے شوے عِلاج نه کوي ځکه چې "نيم حکيم خطرۀ ځان" د چا د ښودلي شوي علاج کولو نه مخکښې د خپل طبيب [ډاکټر] سره مشوره کوئ. خبردار! څوک چې ماهر طبيب نه وي او د مريضانو علاج کوي هغه ګنهګاريږي. اعلیٰ حضرت رحمۃ اللہ علیہ فرمائي: او نا اهل (يعنې څوک چې ماهر طبيب نه وي هغه) له په دې (يعنې علاج) کښې لاس وهل حرام دي او په دې (يعنې په علاج کښې لاس وهل) پريښودل پرې فرض دي. (فتاوىٰ رضويه،206/24) ﴿29﴾ د مريض د تپوس په موقع ميوه يا بسکټ وغيره په تحفه کښې وړل ښۀ کار دے خو د نه وړلو په صورت کښې تپوس له نۀ تلل او په زړۀ کښې دا سوچ کول چې که څۀ نه وړم نو هغه به څۀ سوچ کوي چې خالي لاس تپوس له راغلے دے، تَش لاس هم تپوس له تلل پکار دي ځکه چې نه کول يې د ثواب نه د محرومۍ سبب دے ﴿30﴾ د تپوس د پاره بعضې خلق د ځان سره ګلدستې وړي، دا هم جائز دي خو دا کتلے شوي دي چې چا له يې ورکړې عموماً د هغوئي پکار نه راځي، لهٰذا هغه څيز په تحفه کښې ورکول پکار دي کوم چې پکار

راځي. د مشورې پهٔ طور عرض دے چې د ګلدستې پهٔ ځائے یا د هغې سره چرته چې مناسب وي هلته د مکـتبة الـمدینه څهٔ رسالې ورېځ او مریض ته یـې پیش کوئ د پاره د دې چې هغه یـې ملاقات کوونکـو، (او که پهٔ هسپتال کښې وي نو) پهٔ خوا کښې مریضانو او د هغوئي خپلوانو له پهٔ تحفه کښې ورکوي بلکې ډیره به ښهٔ وي چې مریض پخپله هم څهٔ رسالې هَدِیَّةً راوغواړي او پهٔ دې غرض یـې د ځان سره کیږدي چې ثواب وګټي خو د رسالو انتخاب پهٔ سوچ او فِکر سره کول پکار دي ﴿31﴾ د فاسِق تپوس هم جائز دے، ځکه چې تپوس پهٔ حقوقِ اِسلام کښې دے او فاسِق هم مسلمان دے. (بهارِ شريعت،505/3) ﴿32﴾ د مُرتَد او کافِر حَربي تپوس جائز نه دے. (في زمانه پهٔ دُنیا کښې ټول کافران حربي دي) ﴿33﴾ بَد مذهبه [یعنې بدعقیده] د چا بَد مذهبي چې کُفر ته نهٔ وي رسیدلې د هغه تپوس [هُم] منع دے.

صَـلُّـوْا عَـلَى الْـحَـبِـيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## "سپین کفن کښې یې ښخوئ" د شپاړسو حروفو پهٔ نسبت د کفن 16 سُنَّت او آداب

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم شپږ فرامین: ﴿1﴾ څوک چې مړي ته کفن ورکړي نو د هغه د پاره د مړي د هر ویښته پهٔ بدل کښې یوه نیکي ده. (تاريخ بغداد،263/4) حضرت علامه عبدُ الرَّءُوف مُناوِي رَحْمَةُ اللّٰهِ عَلَيْه د حدیثِ پاک پهٔ دې حصه " څوک چې مړي ته کفن ورکړي" د لاندې فرمائي: یعنې څوک چې د خپل مال نه د مړي د کفن انتظام وکړي. (التيسير بشرح جامع الصغير،442/2) ﴿2﴾ څوک چې مړي له کفن ورکړي **اللّٰه** پاک به هغهٔ ته د جنّت د نرې او پیرِ ریښم جامې اغوندي (مستدرك،690/1، حديث:1380) ﴿3﴾ څوک چې مړے ولـمبوي، کفن وراغوندي، خوشبوئي پرې ولګوي، جنازه یـې اوچته کړي، د جنازې نمونځ یـې وکړي او کهٔ څهٔ عیب پـکښې ووینې هغه پټ کړي هغه د خپلو ګناهونو نه داسې پاک شي لکه څنګه چې پهٔ کومه ورځ د مور د ګیډې نه پیدا شوے

وو. (ابن‌ماجه، 201/2، حديث:1462) د حديث د دې حصې ”عيب“ نه مُراد دا دے چې کومه خبره د ظاهريدو قابل نه وي لکه د مخ رنګ توريدل. ﴿4﴾ خپل مړي په ښهٔ کفن کښې ښخوئ ځکه چې هغوئي په قبرونو کښې خپل مينځ کښې ملاقات کوي او (په ښهٔ کفن باندې) فخر کوي (يعنې خوشحاليږي). (مسندالفردوس، 98/1، حديث:317) ﴿5﴾چې کله په تاسو کښې څوک خپل ورور له کفن ورکوي نو ښهٔ کفن دې ورکوي. (مسلم، ص470، حديث:943) ﴿6﴾ خپلو مړو ته سپين کفن وراچوئ. (ترمذی، 301/2، حديث:996)

## د کفن وراچولو نيت

﴿7﴾ **د کفن وراچولو نيت:** د الله پاک د رضا حاصلولو د پاره او د خپل مرګ نه پس د خپل کفن را اغوستلو يادولو سره د فرض د ادا کولو د پاره به مړي ته د سُنَّت مطابق کفن اچووم. ﴿8﴾ مړي ته کفن اغوستل ”فرضِ کفايه“ دي (بهارشريعت، 817/1) يعني چې يو کس کفن ورکړي [ورواچوي] ټول بَرِيُّ الذِّمَّه شول (يعنې د ټولو د فرضو نه غاړه خلاصه شوه) ګني چې څوک خبر شوي وو او په کفن کړے يـې نه وي نو ټول به ګنهګاران وي.

## مَسنون کفن

﴿9﴾ د نارينه کفن: (1) لِفافه يعني څادر (2) اِزار يعني تهبند [لنګ] (3) قميص. د زنانه د پاره د دې دريو سره نور دوه دا دي: (4) لوپټه (5) سينه بند (فتاویٰ‌ہنديه، 160/1) ﴿10﴾ کوم نابالغ چې د شَهوَت حَد [1] ته ورسيدو نو هغه د بالغ په حکم کښې دے يعني بالغ ته چې په کفن کښې څومره کپړې اغوستے شي دهٔ ته به هم اغوستے شي او

---

[1] ... د شهوت حد په هلکانو کښې دا (دے) چې د هغهٔ زړهٔ زنانؤ ته رغبت کوي او په جينۍ کښې دا چې هغې ته په کتلو د نارينه د هغې طرف ته خواهش پيدا کيږي او د هغې اندازه په نارينؤ کښې (د هجري کال په حساب سره) دولس کاله او په جينکو کښې نهه کاله ده. (حاشيهٔ‌بهارشريعت، 819/1)

د دۀ نه وړوکي هلک له به يوه کپړه او وړوکې جينۍ له دوه کپړې ورکولے شي او هلک له که هم دوه کپړې ورکړے شي نو ښې دي او بهتر دا دي چې دواړو له پوره کفن ورکړې اګر که د يوې ورځې ماشوم وي. (بهارِشريعت،819/1) ﴿11﴾ صرف عُلماء او مشائِخ د عِمامې سره دفن کيدے شي، د عامو خلقو د مړي د عِمامې سره دفن کول منع دي.(مدَنی وصیّت نامه، ص4) ﴿12﴾ د نارينه پۀ بدن باندې داسې خوشبوئي لګول جائز نه ده پۀ کومه کښې چې زَعفران ګډ کړے شوي وي، د زنانه د پاره (د زعفران ګډه کړے شوې خوشبوئي) جائز ده. (بهارِشريعت،861/1) ﴿13﴾ چا چې احرام تړلے وي (او پۀ هم هغه حالت کښې وفات) شي د هغۀ پۀ بدن باندې هم خوشبوئي ولګوئ او د هغه مخ او سر دې پۀ کفن کښې پټ کړے شي. (بهارِشريعت،861/1)

## د کفن تفصيل

﴿14﴾ (1) لِفافه (يعنې څادر): چې (دا) د مړي د قد نه دومره غټ وي چې دواړو اړخونو ته وتړلے شي (2) اِزار (يعنې تهبند): د سر د شروع نه تر د ښپو پورې يعنې د لفافې [څادر] نه دومره وړوکے کوم چې د تړلو د پاره زيات وي (3) قميص: د څټ نه تر د زنګونانو نه ښکته پورې او چې دا مخې او شا ته دواړو طرفونو ته يو شان وي چې پۀ دې کښې څاخونه (يعنې د ژوندي کس د قميص پشان څاخونه) نۀ وي او نۀ پکښې لستوڼي وي. د نارينه او زنانه پۀ قميص کښې فرق دے، د نارينه قميص د وَلو [اوګو] په لور شلوي او د زنانه د پاره د سينې پۀ لور (4) لوپټه: درې لاسه يعنې يو نيم ګز پکار وي (5) سينه بند: د سينې نه تر نامه پورې او بهتره دا ده چې د ورنانو پورې وي.(بهارِ شريعت،818/1ملخصاً) عموماً تيار کفن اخستے شي د هغې د مړي د قد مطابق مَسنُون سائز کيدل ضروري نه دے [يعنې هغه تقريباً په يو سائز پريک کړے شوي وي او د مړي قد د چا زيات د چا کم وي، او مسنون سائز کيدل ضروري دي]، دا هم کيدے شي چې دومره زيات وي چې پۀ اِسراف کښې داخل شي، لهٰذا احتياط پۀ دې کښې دے چې د تهان نه د ضرورت مطابق کپړه وشلولے شي. که تيار کفن اخستل وي نو زياته کپړه ترينه

کټ کړئ او کیږدئ، که دا کفن د مړي د مال نه اخستے شوے وي نو زیاته شوې کپړه به په وراثت کښې تقسیمیږي ﴿15﴾کفن ښهٔ پکار دے یعنې نارینه چې به په اخترونو او د جُمعې [د نـمونځ] د پاره کومې جامې اغوستې او زنانه چې به د پلار کور ته د تللو د پاره کومې جامې اغوستې د هٔغه قیمت پکار دي. (بهارِشریعت،1/818)

## د کفن وراچولو طریقه

﴿16﴾ د غسل ورکولو نه پس یـې په قلاره بدن په څهٔ پاکه کپړه باندې وَچ کړئ د پاره د دې چې کفن لوند نشي، کفن له یو یا درې یا پینځه یا اووه ځله [د سپیلنو، لُوبان وغیره خوشبوداره] لوګے ورکړئ، د دې نه زیات نه، بیا یـې داسې وغوړوئ چې مخکښې "لِفافه" یعنې غټ څادر په هغې دپاسه "تهبند [لنګ]" او د هغې دپاسه "قمیص" کیږدئ، بیا پرې مړے څملوئ او قمیص ورته واغوندئ، بیا یـې په سر، ګیره (او که ګیره یـې نه وي نو په زنه) او په باقي پاتې ټول بدن باندې خوشبوئي وومږئ، هٔغه اندامونه په کومو چې سجده کولے شي یعنې په تندي، پوزه، لاسونو، زنګونانو او ښپو باندې یـې کافور ولګوئ. بیا ترې اِزار یعنې تهبند راتاو کړئ، وړومبے د ګڅ اړخ نه بیا د ښي اړخ نه. بیا ترینه څادر هم دغه شان وړومبے د ګڅ او بیا د ښي اړخ نه راتاو کړئ د پاره د دې چې ښې اړخ بره راشي. د سر او ښپو اړخونه یـې وتړئ چې د لرې کیدو اندیښنه نه وي. زنانه ته "قمیص" واچوئ او د هغې ویښته دوه حصې کړئ او د قمیص دپاسه یـې په سینه باندې واچوئ او لوپټه یـې د ملا د نیمې نه لاندې وغوړوئ او تر سر پورې یـې راولئ او په مخ یـې د نِقاب په شان وړواچوئ چې په سینه باندې یـې خور وي چې د هغې اوږد والے د ملا د نیمې نه تر سینې پورې دے او پلن والے یـې د یو غوږ د لَو نه تر بَل غوږ د لَو پورې دے بیا ترې هُم هغسې تهبند او څادر راتاو کړئ بیا د ټولو نه بره سینه بند د سینې د بره نه تر د ورنانو پورې راولئ او اوئې تړئ. (د نور تفصیل د پاره بهارِ شریعت جلد اوّل صفحه 817 نه تر 822 پورې ولولئ)

# ”جنازه باعثِ عبرت ده“ د پینځلّس حروفو په نسبت د جنازې 15 سُنَّت او آداب

د خوږ مصطفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم څلور فرامین: ﴿1﴾ چا ته چې د چا د جنازې خبر میلاو شي [او] هغه د مړي د کور والؤ له لاړ شي او هغوئي ته تعزیَّت وکړي [یعنې د مړي د پاره هلته دعا وکړي او د مړي وارثانو ته تسلّي ورکړي] **اللّٰه** پاک د هغه د پاره یو قیراط ثواب لیکي، بیا که د جنازې سره لاړ شي نو **اللّٰه** پاک دوه قیراط اَجر لیکي، بیا چې د هغه جنازه وکړي نو درې قیراط، بیا چې په دفن کولو کښې حاضر شي نو څلور او هر قیراط د اُحُد د غر برابر دے. (فتاوٰی رضویه، 9/401، عمدۃالقاری، 1/400، تحت الحدیث: 47)

﴿2﴾د مسلمان په مسلمان باندې شپږ حقونه دي، (په هغې کښې یو دا دے) چې کله مړ شي نو د هغهٔ په جنازه کښې دې شریک شي. (مسلم، ص1192، حدیث: (2162)ملخصاً) ﴿3﴾چې کله څوک جنّتي کَس وفات شي نو **اللّٰه** پاک [د دې نه] حیا فرمائي چې هُغه خلقو له عذاب ورکړي څوک چې د هغه جنازه وړي او څوک چې په هغې پسې وروستو روان وي او کومو خلقو چې د هغهٔ د جنازې نمونځ ادا کړو. (مسندالفردوس، 1/282، حدیث: 1108)

﴿4﴾ مؤمِن بنده له به د مرګ نه پس د ټولو نه وړومبۍ جزا دا ورکولے شي چې د هغه په جنازه کښې ټول شرکت کوونکي به وبخښلے شي. (مسندبزار، 11/86، حدیث: 4796)

﴿5﴾حضرت داؤد عَلَیْہِ السَّلَام په بارګاهِ الٰهی کښې عرض وکړو: یَا **اللّٰه**! چا چې صرف ستا د راضي کولو د پاره د جنازې ملګرتیا وکړه، د هغه جزا څهٔ ده؟ **اللّٰه** پاک ووفرمائیل: په کومه ورځ چې به هغه مړ شي، فرښتې به د هغهٔ د جنازې سره ځي او زهٔ به هغه وبخښم. (شرح الصدور، ص97) ﴿6﴾حضرت امام مالِک بن اَنس رَحْمَۃُ اللہِ عَلَیْہ د وفات نه پس چا په خوب کښې ولیدو او پوښتنه یې ترینه وکړه: مَا فَعَلَ اللّٰهُ بِكَ؟ یعني **اللّٰه** پاک ستاسو سره څهٔ سلوک وکړو؟ اوئې وئیل: د یوې کلمې په وجه یې وبخښلم کومه چې به حضرت عثمان غني رَضِیَ اللہُ عَنْہ د جنازې په لیدلو وئیله. (هغه کلمه دا ده:) سُبْحٰنَ الْحَيِّ الَّذِیْ

لَايَمُوْتُ. [1] لهٰذا ما چې به هم جنازه وليدله نو دا به مې وئيله، د دې کلمې (وئيلو) په وجه الله پاک زۀ وبخښلم. (احياء العلوم،5/266 ملخصاً) ﴿7﴾ په جنازه کښې د الله پاک د راضي کولو، د جنازې د فرض ادا کولو، د عبرت حاصلولو، د مړي او د هغۀ د خپلوانو زړۀ ساتلو وغيره ښو ښو نيتونو سره شرکت کول پکار دي ﴿8﴾ د جنازې سره د تللو په وخت خپل مرګ او د ښې او بدې خاتمې په باره کښې سوچ کوئ چې د مرګ په وخت به پته نه لګي چې زما ايمان سلامت پاتې شي که نۀ! آه! چې څنګه مو نن دے راخستے دے، يوه ورځ به ما هم داسې وړي، لکه څنګه چې دے د منونو خاورو لاندې دفن کيدونکے دے، زما سره به هم داسې کيږي. داسې غور او فِکر کول عبادت او د ثواب کار دے. ﴿9﴾ جنازې له اوګه ورکول د ثواب کار دے، نبي رحمت، شفيعِ اُمَّت صلَّى الله عليهِ واٰلهٖ وسلَّم د حضرت سَعد بِن مُعاذ رضی الله عنه جنازه اوچته کړې وه.(طبقات لابن سعد،3/329، البنايه،3/242 ملخصاً) ﴿10﴾ په حديثِ پاک کښې دي: "څوک چې جنازه واخلي او څلويښت قدمه لاړ شي د هغۀ به څلويښت کبيره ګناهونه وران [يعنې معاف] کړے شي." او په حديث شريف کښې دي: "څوک چې د جنازې څلورو واړو ښپو له اوګه ورکړي الله پاک به د هغه حَتمي مغفرت ووفرمائي." (جوہرۃالنيرہ،ص39، درمختار، 3/158، 159، بهار شريعت، 1/823) ﴿11﴾ سُنَّت دا دي چې د يوې نه پس بَله، داسې څلور واړو ښپو له اوګه ورکړې او هر ځل لس لس قدمه لاړ شې. پوره سُنَّت دا دي چې وړومبے د سر نه ښي اړخ والا حصې له اوګه ورکړې بيا د ښي اړخ د ښپو اړخ بيا د سر نه ګڅ اړخ والا حصې او بيا د ګڅ اړخ د ښپو اړخ له او لس لس قدمه لاړ شې نو ټول څلويښت قدمه شو. (فتاوىٰ ہنديه، 1/162، بهار شريعت، 1/822) بعضې خلق د جنازې په ګنه کښې اِعلان کوي چې دوه دوه قدمه لاړ شئ! هغوئي له پکار دي چې داسې اعلان کوي چې "لس لس قدمه لاړ شئ!" ﴿12﴾ جنازې له د اوګې ورکولو په وخت قصداً عمداً د تکليف ورکولو په انداز کښې خلقو له ديکې ورکول لکه څنګه چې بعضې

---

[1]... يعنې هٰغه ذات پاک دے کوم چې ژوندے دے هغۀ له به کله هُم مرګ نه راځي.

خلق د چا شخصيت پهٔ جنازه کښې يا چې چرته ويډيو وغيره کيږي هلته کوي دا ناجائزه او حرام او دوزخ ته بوتلونکے کار دے ﴿13﴾ د وړوکي ماشوم جنازه که يو ګس پهٔ لاسونو کښې واخلي نو هيڅ باک پکښې نشته او د يو نه پس دې يـې بَل پهٔ لاسونو کښې اخلي (فتاویٰ ہندیه، 162/1) زنانؤ لره (که ماشوم وي او که غټ وي د چا د جنازې سره تلل ناجائزه او منع دي. (بهارِ شريعت، 823/1، درمختار، 162/3) ﴿14﴾ خاوند د خپلې ښځې جنازې له اوګه هم ورکولے شي، قبر ته يـې هم کوزولے شي او مخ يـې هم ليدے شي. صرف د غسل ورکولو او بِلا حائل [يعنې بغير د کپړې وغيره نه] بدن له لاس وروړل منع دي. (بهارِ شريعت، 813812/1) ﴿15﴾ د جنازې سره پهٔ تيز اواز کلمهٔ طيّبه يا کلمهٔ شهادت يا حمد او نعت وغيره لوستل جائز دي. (وګورئ: فتاویٰ رضويه جلد 9 د صفحه 139 نه تر 158)

جنازہ آگے آگے کہہ رہا ہے اے جہاں والو! مرے پیچھے چلے آؤ تمہارا رہنما میں ہوں

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قبر او دفن 22 سُنَّت او آداب

﴿1﴾ فرمانِ الٰهی :

اَلَمْ نَجْعَلِ الْاَرْضَ كِفَاتًا ﴿۲۵﴾ اَحْيَآءً وَّ اَمْوَاتًا ﴿۲۶﴾ (پ29، المرسلات: 25،26)

[مفهوم] ترجمهٔ كنزُ العِرفان: آيا مونږه زمکه جمع کوونکې جوړه نه کړه، د ژوندو او مړو.

د دې آيت مبارک لاندې پهٔ "نُورُالعِرفان" صفحه 927 کښې دي: "داسې چې ژوندي د زمکې پهٔ شا باندې او مَړي د زمکې پهٔ خيټه کښې راجمع دي." ﴿2﴾ د مَړي دفن کول فرضِ کفايه ده (يعنې که يو کس هم دفن کړو نو د ټولو غاړه خلاصه شوه ګني چا چا ته چې خبر رسيدلے وو او دفن يـې نه کړو نو ګنهګار شول) دا جائز نه دي چې مړے پهٔ زمکه باندې کيږدې او د څلور واړو اړخونو نه ورته ديوال جوړ کړي او بند يـې کړي. (بهارِ شريعت، 842/1) ﴿3﴾ قبرونه هم د **الله** کريم نِعمت دے پهٔ کومو کښې چې مَړي دفن کولے شي د پاره د دې چې ځناور او نور خيزونه د دوئي توهين [سپکاوے]

ونـکـړي. ﴿4﴾ د صالحانو (يعنې نيکانو بندګانو) پهٔ خوا کښې دفن کول پـکـار دي چې د هغوئي د قرب برکت ده ته حاصل وي، که مَعَاذَالله! د عذاب حقدار هم وي نو هغوئي يـې شفاعت کوي، هُغه رحمت چې پهٔ هغوئي (نيکانو بندګانو) نازليږي هغهٔ ته (يعنې ګنهګار ته) هم رسي. پهٔ حديثِ پاک کښې نبيِ کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمائي: ''خپل اَموات (يعنې مَړي) د ښو خلقو سره دفن کوئ.'' (حلية الاولياء، 390/6، رقم: 9042) ﴿5﴾ د شپې پهٔ دفن کولو کښې هيڅ باک نشته. (الجوهرة النيرة، ص141) ﴿6﴾ پهٔ يو قبر کښې د يو نه زيات بغير د ضرورت نه دفن کول جائز نه دي او که ضرورت وي نو کولے شئ. (بهارِ شريعت، 846/1، فتاوىٰ هنديه، 166/1) ﴿7﴾ جنازه د قبر نه د قبلې پهٔ لور کيښودل مُستحب دي د پاره د دې چې مړے د قبلې د اړخ نه قبر ته کوز کړے شي. د قبر د ښپو والا اړخ ته يـې مهٔ ږدئ او مهٔ يـې [قبر ته کوزولو د پاره] د سر د اړخ نه راوړئ. (بهارِ شريعت، 844/1) ﴿8﴾د ضرورت مطابق دوه يا درې او بهتره دا ده چې طاقتور او نيکان ګسان قبر ته کوز شي. د زنانه مړے دې مَحارِم کوزوي که دا نه وي نو نور خپلوان، که دا هم نه وي نو پهٔ پرهيزګارو باندې دې کوز کړے شي. (فتاوىٰ هنديه، 166/1) ﴿9﴾ د زنانه مړے دې د کوزيدو نه تر د تختې لګولو پورې پهٔ څهٔ کپړه باندې پټ ساتلے شي. ﴿10﴾ قبر ته د کوزولو پهٔ وخت دا دُعا ولولئ: بِسْمِ اللهِ وَ بِاللهِ وَ عَلٰى مِلَّةِ رَسُوْلِ اللهِ. [1] (تنوير الابصار، 166/3) ﴿11﴾ مړے پهٔ ښى ډډه خملوئ او مخ يـې د قبلې پهٔ لور کوئ او د کفن غوټې خلاصوئ چې اوس يـې ضرورت نشته، که برسيره نه کړے شوې نو بيا هُم پـکـښې څهٔ باک نشته. (فتاوىٰ هنديه، 166/1، جوهرة النيره، ص140) ﴿12﴾ د کفن غوټې پرانستونکے دې دا دُعا لولي: اَللّٰهُمَّ لَا تَحْرِمْنَا اَجْرَهٗ وَ لَا تَفْتِنَّا بَعْدَهٗ. [2] (حاشية الطحطاوى على مراقى الفلاح، ص609)

---

1 ـــ ترجمه: د الله پاک پهٔ نوم سره او د الله پاک د رسول صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم پهٔ دِين باندې (تا پهٔ قبر کښې ږدم).

2 ـــ ترجمه: اے الله! مونږه د دهٔ د اَجر نه مهٔ محرومه کوې او مونږ د دهٔ نه پس پهٔ فتنه کښې مهٔ اخته کوې.

﴾13﴿ قبر پهٔ کچه ښختو [1] بندوئ که زمکه نرمه وي نو (د لرګي) تختې لګول هم جائز دي (بهارِشریعت، 844/1) ﴾14﴿ بیا دې پرې خاورې واړولے شي، مستحب دا دي چې د سر د اړخ نه پرې درې ګرته خاوره واچولے شي. پهٔ وړومبي ځل دې ووائي ''مِنْهَا خَلَقْنَاكُمْ''،[2] پهٔ دويم ځله دې ''وَفِيْهَا نُعِيْدُكُمْ''،[3] پهٔ دريم ځل دې ''وَمِنْهَا نُخْرِجُكُمْ تَارَةً اُخْرٰى''[4] ولولي. بیا دې نوره خاوره پهٔ بیلچه وغیره باندې واچوي. (الجوہرۃالنیرۃ، ص 141) ﴾15﴿ څومره خاوره چې د قبر نه راویستے شوې ده د هغې نه پرې زیاته اچول مکروه ده. (فتاویٰ ہندیه، 661/1) ﴾16﴿ پهٔ لاسونو پسې چې کومه خاوره انښتې وي هغه وڅنډئ یا یې وینځئ، اختیار دے. (بہارِ شریعت، 458/1) ﴾17﴿ قبر څلورو کوټونو والا مهٔ جوړوئ بلکې دا د ډال پهٔ شان وساتئ لکه څنګه چې د اوښ کوپان [قُب] وي، (د دفن نه پس) پهٔ قبر باندې اوبه اچول بهتر دي، قبر یو لویشت اوچت یا معمولي زیات پکار دے. (بہارِ شریعت، 846/1 ملخصاً، ردالمحتار، 168/3) د دفن نه پس د قبر خوا ته اذان کول د ثواب کار دے او د مړي د پاره ډېر فائده مند دے. (فتاویٰ رضویه، 370/5 ماخوذاً) ﴾18﴿ مستحب دا دي چې د دفن نه پس قبر ته د سورهٔ بقره اوّل او آخر ولوستے شي، د سر اړخ ته د الٓمّ نه مُفْلِحُوْن پورې او د ښپو طرف ته د اٰمَنَ الرَّسُوْلُ نه د سورت تر ختمیدو پورې ولولئ. (بہارِ شریعت، 846/1) ﴾19﴿ د دفن نه پس د قبر پهٔ خوا کښې دومره وخت ایساریدل مستحب دي پهٔ څومره وخت کښې چې اوښ ذبح او غوښه یې تقسیمه کړے شي چې د دوئي د ایساریدو سره به مړي ته محبت او اشنائیت میلاویږي او د نکیرین پهٔ جواب ورکولو کښې به ورسره ویره نه وي او پهٔ دغه وخت کښې د قرآن

---

[1] ... د قبر پهٔ دننه حصه کښې پهٔ وور پخې کړے شوې ښختې لګول منع دي خو اکثر اوس د سیمټو د دیوالونو او د سلیپ رواج دے لهٰذا د سیمټو د دیوالونو او د سیمټو د تختو هٔغه حصه کومه چې دننه اړخ ته ساتل دي، هغه د کچه خاورې پهٔ ختهٔ باندې لیو کړئ. الله پاک دې مسلمانان د وور د آثر نه وساتي. اٰمین بِجاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

[2] ---- مونږه تاسو هم د زمکې نه پیدا کړئ.

[3] ---- او هم هغې ته به تاسو ورګرځوو.

[4] ---- او هم د هغې نه به تاسو واپس راوباسو.

تلاوت او د مړي د پاره دُعا او اِستِغفار کوئ او دا دُعا کوئ چې د نکیرین په جواب کښې ثابت قدم پاتې شي. (بهارِ شريعت، 846/1 بتغير) ﴿20﴾شجره یا عَهد نامه په قبر کښې کیښودل جائز دي او بهتر دا دي چې د مړي مخې ته د قبلې اړخ تاخ وکنستے شي او په هغې کښې کیښودے شي، بلکې په ”دُرِّمُختار“ کښې په کفن باندې عَهد نامه لیکلو ته جائز وئیلے شوي دي او فرمائیلے شوي دي چې د دې سره د بخښنې امید دے او د مړي په سینه او تندي باندې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لیکل جائز دي. یو ګس د دې وصیت کړے وو، د وفات نه پس یې په سینه او تندي باندې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ولیکلے شو، بیا هغه چا په خوب کښې ولیدو، د حال پوښتنه یې ترینه وکړه، اوئې وئیل: چې کله زهٔ په قبر کښې کیښودے شوم نو فرښتې راغلې، فرښتو چې کله زما په تندي باندې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم لیکلې ولیده نو اوئې وئیل: تهٔ د عذاب نه بچ شوې. (بهارِ شريعت، 848/1، درمختار، 153/3، فتاوىٰ تاتارخانيه، 170/2) ﴿21﴾ داسې هم کیدے شي چې په تندي باندې بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡم ولیکئ او په سینه باندې کلمهٔ طیِّبه لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ مُحَمَّدٌ رَّسُوْلُ الله (صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم) خو د لمبولو نه پس د کفن وراغوستو نه مخکښې یې د کلمې والا ګوته (یعنې د ښي لاس د شهادت والا ګوتې) په ذریعه ولیکئ، په سیاهۍ یې مهٔ لیکئ. (بهارِ شريعت، 848/1 بتغير، ردالمحتار، 186/3)﴿22﴾ کهٔ په قبر کښې د مړي هډوکي راوځي نو د هُغه هډوکو دفن کول واجب دي. (فتاوىٰ رضويه، 406/9 ماخوذاً)

## د هديرې د حاضرۍ 21 سُنَّت او آداب

د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم درې فرامین: ﴿1﴾ ”ما تاسو د قبرونو د زیارت نه منع کړي وئ خو اوس تاسو د قبرونو زیارت کوئ ځکه چې دا په دنیا کښې د بے رغبتۍ سبب [دے] او آخرت رایادوي.“ (ابن ماجه، 252/2، حديث: 1571) ﴿2﴾ کله چې څوک په داسې قبر تیریږي څوک یې چې په دُنیا کښې پیژندو او هغهٔ ته سلام وکړي هُغه مړے هغه پیژني او د هغهٔ د سلام جواب ورکوي. (تاريخ بغداد، 135/6، حديث: 3175) ﴿3﴾څوک چې د خپل مور پلار دواړو او یا د یو د قبر د هرې جُمعې په ورځ زیارت کوي،

د هغهٔ بخښنه به وشي او نيکئ کوونکے به ليکلے شي. (شعب الايمان، 201/6، حديث: 7901)
﴿4﴾د مسلمانانو د قبرونو زيارت کول سُنّت او د اوليائے کرامو او شهدائے عظامو پهٔ مزارونو باندې حاضري سعادت بَر سعادت او هغوئي ته ايصالِ ثواب مندوب (يعنې خوښ) او ثواب دے. (فتاویٰ رضويه، 532/9) ﴿5﴾ (د وليُّ الله د مزار شريف يا) د چا مسلمان د قبر د زيارت د پاره چې ځئ نو مستحب دا دي چې ورومبے پهٔ خپل کور کښې (چې مکروه وخت نه وي) دوه رکعته نفل وکړئ، پهٔ هر رکعت کښې د سُوْرَةُ الْفَاتِحَه نه پس يو ځل اٰيَةُ الْكُرْسِى او درې ځله سُوْرَةُ الْاِخْلَاص ولولئ او د دې نـمونځ ثواب قبر والا ته وبخښئ، الله پاک به د هٰغه وفات شوي بنده پهٔ قبر کښې نور پيدا کړي او دې (ثواب رسوونکي) ګس ته به ډير زيات ثواب عطا کړي. (فتاویٰ ہنديه، 350/5) ﴿6﴾ د مزار شريف يا د قبر د زيارت د پاره چې ځئ نو پهٔ لاره کښې فضول خبرې مهٔ کوئ. (فتاویٰ ہنديه، 350/5)
﴿7﴾قبر مهٔ ښکلوئ، مهٔ قبر له لاس وروړئ. (فتاویٰ رضويه، 526522/9) بلکې د قبر نه پهٔ څهٔ فاصله باندې ودريږئ ﴿8﴾ قَبر ته د تعظيم سجده کول حرام کار دے او که چرې د عبادت پهٔ نيت سره وي نو کُفر دے. (فتاویٰ رضويه، 423/22) ﴿9﴾ هديرې ته پهٔ هٰغه عامه لاره ځئ، چرته چې مخکښې چرې هم د مسلمانانو قبرونه نه وو، کومه لاره چې نوې جوړه وي پهٔ هغې مه ځئ. پهٔ **فتاویٰ شامي** کښې دي: (پهٔ هديره کښې چې قبرونه وران کړے شوي وي او په هغې) کومه نوې لاره جوړه کړے شوې وي پهٔ هغې تلل حرام دي. (رد المحتار، 612/1) بلکې د نوې لارې که صرف ګمان (يعنې شک) وي نو بيا هم پهٔ هغې تلل ناجائز او ګناه ده. (درمختار، 183/3) ﴿10﴾ د ډيرو اوليائے کرامو د مزارونو پهٔ خوا کښې ليدلے شوي دي چې د زيارت کوونکو د اسانۍ د پاره قبرونه وران کړے شي او فرش جوړ کړے شي، پهٔ داسې فرش څملاستل، ګرځيدل، اودريدل، د تلاوت کولو او د ذِکر و اَذکار د پاره کښيناستل وغيره حرام دي، چرته چې داسې حالات وي هلته د لرې نه فاتحه لولئ. ﴿11﴾د قبر د زيارت کولو پهٔ وخت د مړي د مخې اړخ ته ودريږئ او د هغه (يعنې قبر والا) د ښپو طرف نه ورځئ چې د هغه نظر مخامخ وي، د سر د طرف نه مهٔ ورځئ چې د کتلو د پاره هغه ته د سر اوچتول پيښ شي. (فتاویٰ رضويه، 532/9) ﴿12﴾پهٔ هديره

کښېږ داسې ودرېږئ چې د قبلې په لور شا او د قبر والؤ د مخونو په لور مو مخ وي د دې نه پس ووايئ: اَلسَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا اَهْلَ الْقُبُوْرِ، يَغْفِرُ اللهُ لَنَا وَلَكُمْ، اَنْتُمْ لَنَا سَلَفٌ وَّنَحْنُ بِالْاَثَرِ. ترجمه: اے د قبر والؤ! په تاسو باندې دې سلام وي، الله پاک دې مونږه او تاسو اوبخښي، تاسو زمونږ نه مخکښې راغلي او مونږ په تاسو پسې در روان يو. (مرقاة المفاتيح، 253/4، تحت الحديث: 1765 ماخوذاً) ﴿13﴾ څوک چې هديرې ته داخل شي او دا ووائي: اَللّٰهُمَّ رَبَّ الْاَجْسَادِ الْبَالِيَةِ وَالْعِظَامِ النَّخِرَةِ الَّتِىْ خَرَجَتْ مِنَ الدُّنْيَا وَهِىَ بِكَ مُؤْمِنَةٌ، اَدْخِلْ عَلَيْهَا رَوْحًا مِّنْ عِنْدِكَ، وَسَلَامًا مِّنِّىْ. ترجمه: "اے الله پاکه! (اے) د دوړيدونکو بدنونو او د وراستو شوو هډوکو رَبّه! څوک چې د دنيا نه د ايمان په حالت کښې رخصت شو ته په هغوئي باندې خپل رحمت او زما سلام اورسوې." نو د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَام نه واخله تر دې وخته پورې چې څومره مؤمنان وفات شوي دي هُغه ټول به د هغهٔ (يعني د دعا لوستونکي) د پاره د بخښنې دُعا کوي. (مصنف ابن ابی شيبه، 257/8، حديث: 22) ﴿14﴾ د خوږ مصطفٰے جانِ رحمت صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: څوک چې هديرې ته داخل شو او بيا يې سُوْرَةُ الْفَاتِحَه، سُوْرَةُ الْاِخْلَاص او سُوْرَةُ التَّكَاثُر ولوستو بيا يې دا دُعا وکړه: يَا الله! ما چې کوم قرآن ولوستو د دې ثواب د دې هديرې مؤمنانو نارينؤ او مؤمِنانو زنانؤ ته اورسوې. نو هُغه ټول مؤمِنان به د قيامت په ورځ د هُغه (يعني ايصالِ ثواب کوونکي) سفارشي وي. (شرح الصدور، ص311) ﴿15﴾ په حديثِ پاک کښې دي: "څوک چې يولس، 11 کَرَته سُوْرَةُ الْاِخْلَاص يعني قُلْ هُوَ اللهُ اَحَد (پوره سورة) ولولي او د هغې ثواب مړو ته اوبخښي، نو د مړو د شميرې برابر به هغهٔ (يعني ايصالِ ثواب کوونکي) ته ثواب ميلاوېږي." (درمختار، 183/3) ﴿16﴾ د قبر د پاسه کړ باتۍ مه لګوئ په دې کښې بے ادبي او بد فالي ده، آؤ که چرې (حاضريدونکو ته) د خوشبو (رسولو) د پاره يې (لګول غواړئ نو) د قبر سره خوا کښې که خالي ځائے وي نو هلته يې ولګوئ چې خوشبو رَسَوَل خوښ عمل دے. (فتاویٰ رضويه، 482/9، 525 ملتقطاً) ﴿17﴾ اعلیٰ حضرت رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په يو بَل ځائے کښې فرمائي: په "صحيح مسلم شريف"


کښې د حضرت عَمرو بِن عاص رضی اللہ عنہ نه روايت دے: هغوئي د وفات پهٔ وخت خپل ځوي ته ووفرمائيل: ” چې کله زهٔ وفات شم نو زما سره دې نهٔ څوک نوحه[1] کوونکې ځي او نهٔ دې راسره وور ځي.“ (مسلم، ص75، حديث: 192، فتاوىٰ رضويه، 482/9) ﴿18﴾ د قبر د پاسه ډيوه يا بَله شمع وغيره مهٔ ږدئ، خو د شپې د تلونکو يا د تلاوت کوونکو د پاره که رڼا مقصود وي نو د قبر پهٔ خوا کښې پهٔ خالي زمکه باندې شمع يا ډيوه کيږدئ خو چې هٰغه خالي ځائے داسې نه وي چرته چې مخکښې قبر وو او اوس وران شوے وي ﴿19﴾ د قبرونو د زيارت د پاره دا 4 ورځې بهترې دي، د ګل، زيارت، جُمعې، خالي ورځ. (فتاوىٰ هنديه، 350/5) د جُمعې پهٔ ورځ د سحر د نـمونځ نه پس د قبرونو زيارت افضل دے. (فتاوىٰ رضويه، 523/9) ﴿20﴾ د برکت والا شپو کښې د قبرونو زيارت افضل دے خصوصاً پهٔ شبِ برأت کښې. (فتاوىٰ هنديه، 350/5) دغه شان د برکت والا ورځو کښې هم د قبرونو زيارت افضل دے، مثلاً پهٔ اخترونو کښې، پهٔ لسم مُحَرَّمُ الحرام او عَشَرهٔ ذِي الحجه (يعنې د ذُوالحجه پهٔ وړومبو لسو ورځو کښې) (فتاوىٰ هنديه، 350/5) ﴿21﴾ د هديرې د حاضرئ پهٔ وخت د فضولو خبرو او د غفلت نه ډکو خيالونو پهٔ ځائے خپل مرګ يادوئ او که کيدے شي نو اوښکې وبيهوئ او خپل ګناهونه راياد کړئ او خپل ځان د قبر د عذاب نه ښهٔ ويروئ، توبه کړئ او دا تصور پهٔ خپل ذهن کښې راولئ چې څنګه نن دا مړي پهٔ خپلو خپلو قبرونو کښې يواځې پراته دي، ډير زر به زهٔ هم داسې پهٔ تيارهٔ قبر کښې يواځې پروت يم.

صَـلُّوْا عَـلَى الْـحَـبِيْـب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] [د نوحه تعريف: پهٔ مړي پسې په زوره ژړا کول، د مړي د دروغو ستائنې کول، خپل ځان پهٔ څپيړو وهل، خپل ويښته شوکول، د خُلې نه د ګيلو قيصو الفاظ ويستل]

## د راروانې هفتې رساله




978-969-722-638-2

01082481

فیضانِ مدینہ، محلہ سوداگران، پرانی سبزی منڈی کراچی

UAN +92 21 111 25 26 92 0313-1139278

www.maktabatulmadinah.com / www.dawateislami.net

feedback@maktabatulmadinah.com / ilmia@dawateislami.net